عبدالخالق رشید

۲۰۲۳/۰۸/۲۹

الله گل دانه دانه ، دانه دانه
شوروي قارکده نمیره خانه
الله گل دانه دانه
*
*
**
***
****
********
*************



# د مرسلي پرسر ستوري

## (ناول)

اوومه برخه

۱۹۸۰ ـ ۱۹۸۶ کلونه

ليکوال

ع .رشيد


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

**پـــــــــر وطــــــــن جنـــــګ دی**

د تبادلې له امله نژدې لس ورځې د مجاهدينواوروسانو ترمنځ اوربند لګيدلی و، د اوربند له دويمې ورځې وروسته،جګړه بيرته پيل شوه،تصميم وچې دا ځل بايد په لوګر کې مجاهدينوته يوګوزاريزځواب ورکړشي،څکه نوکرچکوف هم داخبره ترنادرجان پورې رسولې وه :

-پرون يو نوی شفر رارسيدلی ،

ـ څنګه شفر ؟

-د جګړې ...

کرچکوف دا پټ شفر په روسي ژبه نادرجان ته خورا پټ ورښودلی و،داځل روسانو نيت درلود،چې دورکړل شويويرغملويه مقابل کې خپل زورزياتې څوڅوځلې پراخ کړي ...داځکه چې اوس په ټوله نړۍ کې داخبره هنګامه شوې وه چې نورنو روسان دافغانانو دمقاومت په وړاندې د ټينګې نه دي او نه کولای شي له هغوی څخه دهغوی مهم سنګرونه ونيسي،روسانوغوښتل چې له لوګره ترغزني پورې د لارې په اوږدوکې افغانانو ته د دوی پروينا يوتاريخي درس ورکړي اوپه پای کې ځان ترخپلې قرارګاه چې په غزني کې وه په امن سره و رسوي .

په همدغه شپه نادرجان په هغه لوی کلي کې چې د دوی قرارګاه ته نژدی پروت و يوه پخواني خلقي ډګروال چې ده ورسره پيژندل دخپل زوی واده ته بللي و،ده کرچکوف ته هم بلنه ورکړې وه،چې لږترلږه دپيښتنود واده مراسم خو به وګوري او کرچکوف دا واک درلود چې بايد داسي ځايو ته تللی وای ، يوازې يې خپل قوماندان ته ويلي وو چې له نادرجان سره دغه واده ته ځي، د دوی ټول ډاډ پردی وچې پخوانی ډګروال چې اوس په دغه شاوخواکې دخلکو دباوروړخوک واو د روسانو له يرغل څخه وروسته پرکورناست و له دوی سره د درغلی نيت نه لري ځکه چې د نادرجان ياراوملګری و،ډګروال هم له هغوکسانو څخه و چې د امين له ماتې وروسته له مجاهدينو سره يوځای شوی و،دا ډول پخواني کسان اوس هم په خپل کلی اوکورکې بې اغيزې نه ول... کرچکوف د همدغه واک له مخې ټولو پيژاند ،څکه خوبه ډيروداهم سره ويل چې قوماندان لوی واکمن دی که کرچکوف ؟

کرچکوف په عادی افغاني کاليو کې هغه لوی کلی ته ولاړ،دلته نن سبا امنيت ډيرخراب نه و،په دې چې ددغه کلي اوسيدونکي هم له مجاهدينو سره درلوده اوهم له دولت سره،څکه د دوی کلی په داسي موقعيت کې پروت وچې په هسې وړه تيروتنه دوی ته خورا زيات تاوان رسيده.همداوه چې دوی له دواړو خواووخپلې ناپلوی باورترلاسه کړی و .

لورمازديګر وچې د قبلی له ګردجن شما ل ګرده سيمه هم دمني يا مني ته نژدې شپو ورځو کې په سراخيستې وه، سپرې مرغی ډلې ډلې، په همدغو شپو ورځوکې له يوه درمند ځايه تربله په تلوسوکې سره الوتلې، دهر درمندځای پرسربه د پروړو خرې لکه دمهاجروخيمې اوړدې او لنډې خورې ورې سره پرتې وې ... يوې اوبلې خوا ته اوس د ډيرو بزګرانو پرځای هلته او دلته يوازې يوه ميرمن لکه زموږ دکلي دانه ابی ترسترګو کيده چې هغه به هم دخپلو پاتې شونو)ګونديو (په ميده کولو باندې اخته وه او ټوله ورځ به يې پرهغو باندې تيرولـه،څوچې به يې ترمازديګره يويا دوه کيلو پرخاورو لړلې غنم اواوربشې ترې بود کړې اوخو شاله خوشاله به له هغوسره کورته روانه وه.دريغه چې دا ټول به په دومره نه ارزيدل چې د دې پرمخ دې دومره خاورې او ګردونه پريوزي چې لکه د ژرندګرې په شان له دوسترګو پرته به يې نورڅه نه ښکاريدل .

نادرجان اوکرچکوف د ډګروال نفراوموټرته سترګې په لاره وو، له خپلې قرارګاه دکلي پرخوا ورو ورو روان وو چې يو نا ځاپه د ډزو غږ ترغوږ شو،نژدې شل دقيقې ډزو دوام وکړ،خو زر ودريدې،دا ډزې د روسان او مجاهدينو دکومې نښتې نه وې،څه شيبه نه وه تيره شوې چې يو سپين ږيرې په بيړه پردې خوا را روان او همدايي ترخوله راووتل :

-توبه توبه مجاهدين خپلو کې سره لګيدلي وو،درې تنه له دواړو خواوو په ګوليو سورې سورې يوې او بلې خوا ته پراته وو ...

نادرجان پوښتنه ترې وکړه :

ـ دچا نفروو، چا ووژل ؟

ـ مسلمانانوخپلو کې سره وخوړل،ټول مجاهدين وو، دحزب او جمعيت ...

ـ خبره څه وه ؟

ـ په ټوپکو او وسلو يې سره دعوه شوې وه، دجمعيت يوڅو غله دلته شته هغوی لار ورته نيولې وه ...

سپين ږيرې که له يوې خوا زيات خواشينی و،خو له بلې خوا يې له ډيره قهره له پزې شنه دودونه راوتل،څکه يې نادرجان ته مخ ور واړاوه او ورته ويې ويل :



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولۍ

- یوه خوله نصوار راکړه ، که درسره وي ،که نه وي دخدای پامان ...
- نصوار خو نشته ،خو سګریټ شته ،
- بس رایي کړه، راته ویې لګوه ، له مي وریجو ړیړی، له ترکیدلو وچو شونډو به یې د سګریټ کرغیړن دود داسې پورته شو،چي پرسترګو به یي ورغی اوچي کله به یې سره لوخي کړې او یا به یي وغړولي ،سترګي به یي سره راسرې شوې، داسي چي دسړي به ښه وایسیده او سړي ته بې هغه مسرې ورياده کړه :

**چلم وهه دوړې يي باسه - د تمباکيو به دي زه ضامينه شمه**

جګي شملي،ښيتوخبرو،لوی چين شوي کميس به يي کتونکي ته پلارورياداوه،هوپلاراويو دروند پلار،په دي چي هغه په همدغو يوکتو له دوی سره داسي غړيده چي تا به ويل ديوه کلي اويوه کورسره آشناغړي دي .
- خوند يي وکه ، دا ملګری دي ولي نه غړيږي ...
- دا غړيدای نه شي ګونګی دی ،
- څه شي ، ګونګی ، دا ځومره ښکلي زلمی دی ...

يوه شيبه يي په ځيرځيرسره ورته وکتل، ورته خواشيني شو،خو يووار يي په فکر کي داهم ورتيره شوه :
- وهلکه داملګری خو به دي روسی نه وي ؟

- نه اکا،روسی نه دی،خو يوځه ترکانو ته ورته دی .
- افسوس چي سترګي يي شني نه وای،دا خامخا ما له ځان سره د ميراودال ( زيارت ته بيوه،ګوندی خدای پاک يي چاره کړې وای،سترګي يي شني دي،مجاهدين يي راخخه ګرزوي ...

نادرجان به کرڅوف ته کتل،بيا به يي ګوته سترګو ته ونيوه اوپه ښتوبه يي ورته وويل :
- دتا په باره کي خبرې کوي ...
- داخوارکی کوڼ هم دی ...

نادرجان له شين ړيري کاکا بيا په آرامه وپوښتل :
- دا مجاهدين ولي په خپلو کي سره وژني ؟
- مجاهدين هم ډول ډول دي،اوس تراصلي مجاهدينو غله زيات شوي دي،دجهاد په پلمه داسي کارونه کوي،چي له جهاده يي دخلکو زړونه تورکړي دي ...
- ته جهاد نه کوي ؟
- زه جهاد کوم خوغلاوداړه ماري نه،مسلمانان ټول سره ورونه دي،چيري چي مسلمان دی ، هغه زما ورور دی، زه پرهرچا باندې دکفر تورلګول ناروا بولم ، خو دريغه چي د اغله اود پرديو ګمارلي ياران بيا ما غوندي نه دي ...
- که دا مجاهدين واک ته ورسيږي ته به هغه مهال بيا څه شي شي ؟
- د شي پروا نه لرم ، خدای دي دوی کامياب کړي ، چي وطن آزاد شي ...
- مجاهدين به حکومت وچلوي ؟
- ګوره حکومت خپل خلک لري ، دوی به روسان وباسي ، نورحکومت خلک لري ، مديران،رييسان، وزيران، واليان ... دا ځوک چي همدا اوس په کابل کي دولتي کارونه کوي ، دا ټول حکومت وال دي ، دوی په حکومتداری پوهيږي ، دوی خو ګرده د روسان ياران نه دي ...
- مجاهدين خو دا خلک نه مني ...

کاکا پر ږيره لاس را تيرکړ، شيبه يي خپله خبره سره ونيوه،نادرجان ته يي وکتل او ورته ويي ويل :
- دا خوبونه به يي ربښتيا نه شي،دا کار زه سم نه بولم،که چيري دوی دا کار وکړي ، نو د حکومت شړي به پردوی باندي خورا اوږده شي ...

د کاکا خبري په مخامخ بحث باندي واوښتي،داسي ښکاريده چي هغه په خپله هم يومهال پردولتي ځوکی کار کړی و،همداوه چي په دغه اړه يي ټولي خبرې پرځای او سنجول شوي وي . يوځل چي نادرجان ورته وويل :
- امريکا او نور... افغانان روزي چي واک ترلاسه کړي ، بيا به هرڅه هغوی ته ورسپاري ...

سپين ږيری کاکا ورته موسکی شو ، داځل يي موسکا يوڅه ترخه غوندي وه،هو،يوڅه ترخه :
- امريکا اونور دداسي کارو لپاره افغانان نه روزي او نه تراوسه په دغه باره کي فکر کوي ، هغوی اوس هغوی روزي چي يوازې جګړه کولای شي ، هغوی ته اوس زما دژوند زما دوطن ترراتلونکي دامهمه ده چي خپل سيال شوروي ته ماته ورکړي ... هغوی به کله هم زموږ د راتلونکي ضمانت ونه کړي ، ځکه دا پردوی اړه نه لري چي ته به سبا ډاکتر لري که نه ؟ ته به ښوونکي او ښوونځی لري که نه، انجنير به لري که نه...نور چرت مه را خرابوه.له خولي مي خبرې مه درباسه ، خدای پاک په خپله ښه پوهيږي چي د پيشو عبادت د څه لپاره دی ؟ دخدای پامان ...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

دوی له سپین ږیري سره خدای پاماني وکړ،هلته لرې موټرهم را ښکاره شو،هغه چې ډګروال پر دوی پسې را لیږلی و...دوی لاهم پلی روان ول،د سپین خبرې یې ورته ویلي او تبصره یي پرې کوله ...نادرجان په همدغه ترڅ کې کرچکوف ته ویلي وو چې دی به خبرې نه کوي ... د سپین ږیري د میرابدال خبره یې هم ورته وژباړه چې که لاره سمه وای او مجاهدینو نه ګرزولای دی یې هلته بیوه،ځو دهغه له برکته خدای پرې مهربانه شوی وای او له دغه ګونګیتوبه پرخبروراغلی وای،ځکه نوکرچکوف نادرجان ته مخ ور واړاوه:

ـ میرابدال څوک دی ؟
ـ دهغې مخامخ څوکې پرسر،هغه سره او شنه، زیړ او ګلابي توغونه وینې،هلته یو لوی زیارت دی ،خلک یې درناوی کوي اود زړه له کومي ارادت ورته لري،هرکله چې چاته کومه ستونزه پیداشي،له ده څخه مرسته غواړي اود خپل زړه تسل پرته له دی چې څه ترې وویني پرې کوي، داددغو خلکو باورونه دي چې زیات ارزښت ورته لري .
ـ په څه شان مرسته ورسره کوي ...
ـ دا مرسته زه تا ته نه شم درپوهولای،په دي یوازې هغوی پوهیږي اودهغوی زړونه او باورونه ، دا مرسته یوازې یو معنوي اړیکه ده اوبس .
ـ په خدای خو زه هم عقیده لرم، دا راته ووایه چې ګونګی په څه شان روغولی شي ؟
ـ ( موسکا ) جوړولای یې شي ، ته دومره وکړه چې اوس د مرګ اوژوند سوال دی، ځان ګونګی ونیسه ، زیاتې خبرې مه کوه چې واده ته دې بوځم اوهغه دروښیم ...زموږ خلک اوس هم په دې باوردي اوتراوسه له یوه اوبل سره دا خبره کوي چې که زموږ دا نومیالي دخدای دوستان(زیارتونه) په الهي حکم په ځنځیرو نه وای تړلي،روسان خولاڅه کوې چې د دنیا ټول کافران هم یوه خوا شوي وای،پردوی یې زورنه رسیده ... بخت موږ ویښ دی اوبله داچې د خدای رضا همداده چې باید همداسی حالت پردی خلکوراشي ، دوی داهم وایي چې خدای درسول الله امت ته په قارشوی، ځکه یې اوس تاسوغوندې بلا پرې رانازله کړې ...دادی اوس لا له ما سره واده ته هم روان یې ...
کرچکوف دغو ټولو خبروته چې په عین حال کې خندنی و، هیښ شوی هم و، ده دا خبره په خپل ژوند کې نوې واوریده ...اوهغې غونډۍ ته یې ترهغوچې موټررا رسیده په ځیر،ځیر کتل...

******

داخورالوی واده و،کرچکوف اونادرجان دوی لاپرکلي نه ول ورننوتي چې د ډولونو مست دربی ترغوږ وشو،دری جوړې مست ډولونه په دغه واده کې وهل کیدل،په لسګونوځنورو غوړې ځنې په کې اړولې اوداسې په کې اوښتل،لکه د ناویو په نازکو لاسونوکې بنګړي اووښي ... کلي ته ورڅیرمه یوغرلرګي داورخولې ته لویدلي وواومستې لمبې ترې پورته کیدې،داسې چې شاوخوا سیمه یې ټوله رڼاکړې وه،پربامونو دسرواوشنو سالوګانو سالووالي یوې اوبلې خوا ته سره کیږې وږې کیدې اودمستوځوانانو داتڼو ننداري کولې اویابه له هغوسره سمې دوی هم پرباموباندې اوښتې را اوښتې... هو، دمست اتڼ ننداره ،هغوی چې ټولویوشان کالي اویوشان غوړې ځنۍ درلودې ،په اندامودومره برابراویو رنګه ول چې فکربه دې کاوه دوی لومړي په مترسره کچه شوي او بیا دلته راوستل شوي دي ...
دهغوی لیونۍ ګډا دشنواوسرو واسکټونوهنداروېي د اورلمبو ته بل شان ښکلا اوځلا کوله اوهرې شغلې به یې بیا دچا خبره زړونه سره پری کول...سترګې یې تخنولې اوداسې اغیزه یې ښندله چې تعبیریې یوازې پښتون احساس کولای شواوبس په تیره چې به یې دغه سروکي هم ورسره پورته کړ :
جګ شه مجاهده ... جګ شه
په وطن جنګ دی شورویان راغلي دینه ...جګ شه ...
کرچکو ف دغې ننداري ته هم حیران پاتې و، داوطن ، دا ټولنه بیاهم دیوه جالب کرکتر لرونکې ټولنه ورته ښکاریده، په تیره چې پورتنی سروکي نادرجان ورته وژباړه،اوده به بیا نادرجان ته دا خبره وکړه :
ـ دلته هرڅه بې نظمه ښکاري ،زه نه پوهیږم چې دا ولې ؟
نادرجان ورته وخندل :
ـ هو، دلته همدغه بې نظمي په خپل پلوکې یودپاملرنې وړنظم هم له ځان سره لري ...
ـ څنګه ؟
ـ په څنګه یې هم کیدای شي پوهان هم زرپوه نه شي،خوموږته داپه خپل وارسره ډیره لویه بې نظمي نه ښکاري ...
کرچکوف د واده په شپه هم حیران و،په هم هغه حالت کې به یې په سلګونو پوښتنې په ذهن کې تلې او راتلې ...خویوڅه یې چې اوس دافغانستان په اړه زړه ته رسیدلي ول،هغه داوو چې ده به تل ویل :
ـ شوروي واکمنانو ددغو خلکو په وړاندې ډیرلوی ظلم وکړ،داخلک دمرستې اوکومک وړ وو،نه چې موږ ورسره لاس او ګریوان شو، کاشکي له دوی سره ددغه تیري اویرغل پر ځای مرسته ورسره شوې وای ... هو کاشکي ...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کرچکوف او نادرخان ماښامنۍ له نورومیلمنو سره په یوه دسترخوان وخوړه، په دغه کوټه کې ټول پرنالیوناست وو، دلته زیاتره منصبداران اودولتي مامورین اویاهم هغوی چې له کابله په هغو سختو شپوکې دلته دخپلوي اواړیکو په خاطرراغلي وویوځای سره ناست وو، ټول له یوه اوبل سره په خبروبوخت ول،خویوڅه چې دلته اوس په دغه شیبه کې نه ول هغه خواشیني وه،ځکه چې دلته ټول د واده پرلامل راغلي ول،دلته په ودونو کې خلک له غمونو سره خدای پامانی کوي، واده  مانا دیوې خوښۍ نوی پیل ... نن دلته داسې واده وچې ناوې یې له کابله راوړه ،چې داهم دیوه کلیوال ځوان لپاره دیوه بدلون نښه وه اویوه خوښي ... هلته اودلته په کلیواوکورونوکې داخبره دهرچا په خولوکې وه چې ناوې کابلۍ ده ... کابلي ده ... خو دوی ته نه معلومیده چې کابل کې هم یوه هوا، یونرخ ، یوه ډله،یورنګه کړه اووړه ډیرکم لیدل ... خو کلیوالوته کابلیان بیاهم کابلیان ول، مانا په هرڅه پوه خلک اوښاریان ... دا ځکه چې کابل پرتولوګران و ،هرچا دهغه دلیدو تلوسه کوله ... اوهرچا که به لیدلی و اویا نه سندرې به یې ورته ویلي :

**جنکۍ ژاړي   وورکي بیا کابل ته ځینه ...**

کرچکوف له نادرجانه پوښتنه وکړه :

- ناوې اوهلک چیرې دي ؟
- هلک خوهمدلته دی،خو نجلۍ تراوسه هم په کابل کې ده، سبا به یوڅو سپین ږیري اوڅومیرمنې کابل ته ځي اود پلار له کوره به یې راوړي ... نن دواده ورستۍ ورځ ده ، که جګړه نه وای،مرګ نه وای اوخطرنه وای سبا به داټول خلک په ناوې پسې یوځای تلل خو اوس هغه وختونه دټولو لپاره یوخوب اوخیال دي ... دایوازنۍ واده دي چې په دغه سیمه کې په دې څوکالو کې ډولونه په کې وهل کیږي اوځوانان په کې له کلونوروسته اوړي را اوړي ...

د ډولونو دربی په هغه شپه تر ناوخته پورې روان و،له نیمې شپې وروسته  دساز بندوبست وشو،نادرجان په دې هرڅه پوهیده خودکرچکوف لپاره بیا داخبره یوه حیراني وه ... ځکه یې ورته ویلي وو چې ساز ته خلک (میده ساز) وایي، دا له نیمې شپې ترملا آذانه دوام کوي .

له یوڅه انتظاره وروسته میده ساز پیل شو،هلکان په کې ګډیدل،کرچکوف ترډیرو پورې فکرکاوه چې دا ګواکی نجوني دي، ځکه نڅاګروهلکانود نجونو کالي اغوستي وو،سم دم لکه نجونی داسې اوښتل را اوښتل... خودی وروسته ورته متوجه شو چې ګواکي دا هلکان دي ...

- ځنګه دي نجونې ؟
- ډیرښکلي ، ډیرښایسته ...
- دسندرغاړي سندره درته وژباړم ...
- هو ، ولي نه ،
- غوږ را نږدې کړه،چې همدا اوس یې پیل کړه :

شورویانو داوطن که نه پریږدئ
ځان  به ښه وشرموئ ...
داوطن د ننګیالو دی ترینه ځئ ،
که نه ټول به دلته مرئ    ...
شورویانو دا وطن که نه پریږدئ ...
ځان به ښه وشرموئ ...
ځان به ښه وشرموئ    ...

پاتې لري...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ